


دکتور حبیب الله تږی

ویلیم جونز د ونسیتارت په ترجمه باندې یوه لنډکۍ تبصره ولیکله او په هغې کښې ئې ووئیل چې ښائي د افغانانو په باره کښې دا بیان د یوهٔ ډېر زړهٔ پورې کشف سبب شي... مونږ ته دا معلومه ده چې د اسرائیلو لس قبیلې وروستو له یو څهٔ مودې سرګردانۍ نه یوهٔ وطن ته چې ارسریت نومېدهٔ لاړې او محتملاً هلته میشته شوې. اوس مونږ ګورو چې د فارسۍ ژبې تر ټولو نه معتبر تاریخونه وائي چې پښتانهٔ د یهودیانو له نسله دي او خپله افغانان هم دا وائي. حتیٰ وئیل کېږي چې د دوی (افغانانو) د قبائلو نومونه هم د یهودو دي.. کهٔ څه هم چې افغانانو د اسلام له منلو نه را دې خوا ته ډېر زیات کوشش کړے چې خپل اصل او نسب پټ کړي خو پښتو ژبه چې ما ئې یوه ډکشنري لیدلې ده له کلداني ژبې سره ډېر زیات ورته والے لري او د (افغانانو) یوه لویه سیمه د هزارې یا هزارات په نامه یادېږي. جونز په پایې کښې وائي چې زهٔ د پښتو ژبې او ادبیاتو د څېړنې ډېر کلک سپارښت کوم. (ونسیتارټ، آسیائي څېړنې دوېم ټوک ص۶۷ کال ۱۷۸٤)

جونز ډېر لوئے عالم او هغه شخص وهٔ چې په وړومبي ځل ئې په کال ۱۷۸۶ کښې په هغه مضمون کښې چې د اسیائي ټولنې په یوه غونډه کښې ئې ولوست، له لاتین، یوناني او جرمانیکو ژبو سره د سنسکرت تاریخي خپلوي ئې په مسلم ډول ثابته کړه او د دهٔ دا ابتکار یوهٔ معاصر پوه د ژبنیو څېړنو د نوي انکشاف له څلورو ډېرو سترو موفقیتونو نه وړومبے ستر موفقیت وبالهٔ. (رابنز د ژبپوهنې لنډ تاریخ ص ۱۳٤) ځکه نو د پښتو ژبې او ادب د څېړنې په باره کښې د دهٔ سپارښت د کلام الملوک ملوک الکلام په فحوا د پښتنو او پښتو څېړنې ته د ډېرو غربي څارونکو او څېړونکو توجه راواړوله. خو په عین وخت کښې د پښتنو او پښتو د اصل او ریښې د څېړلو په برخه کښې د جونز خبرې هغه عنعنوي روایت نور هم تقویه کړو چې د پښتنو اصل او نسب ئې بني اسرائیلو ته ور کش کړے وهٔ.

د جونز له تبصرې وروستو ډېرو غربیانو کوشش وکړو چې دا ثابته کړي چې افغانان له اصله یهود دي. له دغو کسانو نه ځنې لکه جارج روز په

خپل کار کښې دومره جدي وهٔ چې په دې باره کښې ئې مستقل کتابونه ولیکل. خو کوم غربي مؤلف چې تر ټولو نه پخوا ئې په دې باره کښې زیاتې ګروېږنې وکړې هغه الیګزنډر برنز وهٔ.

برنز هغه انګرېز دے چې افغانانو د برنس په نامه پېژندهٔ او په کال ۱۸٤۱ کښې له خپل ورور او یوهٔ همکار سره یو ځائے په هغې بلوه کښې ووژل شو چې د کابل خلقو د اشغالګرو انګرېزانو او د هغوي د لاس کوسي شاه شجاع په خلاف کړې وه. برنز د خپل هغه سفر خاطرات چې په کال ۱۸۳۲ کښې ئې د هغه وخت افغانستان او بخارا ته کړې، په هغه اثر کښې چې «بخارا ته سفر» نومېږي ثبت کړي دي. دې په کابل کښې د خپلو ګروېږنو په اساس دې نتیجې ته رسېدلے چې پښتانهٔ اسرائیل دي. برنز چې په کابل کښې د امیر دوست محمد خان له ورور نواب جبار خان سره د هغهٔ په خپل کور کښې اوسېدهٔ لیکي: ما له هغو یو زیات شمېر خلقو نه چې مونږ د خپل کوربه کره تل ورسره کتل، د دې متنازعه فیه مسئلې په باره کښې معلومات ټولول چې پښتانهٔ له اصله یهود دي. دغو خلقو ماته خپل کتابونه راوړل مګر ما ئې د لوستلو وخت نهٔ لرلو او ورنه غوښتل مې چې شفاهي معلومات راکړي. برنز وائي افغانان ځانونه بني اسرائیل یا د اسرائیلو اولاد ګڼي.. او وائي بخت نصر د بیت المقدس له سقوط نه وروستو د غور په ښار کښې میشته کړے دے....

وروستو تر دې چې د افغانانو عنعنه او تاریخ مې په ډېر دقت ثبت کړو، زهٔ د دې په باره هیڅ دلیل نهٔ وینم چې د هغوي خبره ونهٔ منم. ښائي چې د تاریخي وقائعو په ترتیب کښې به ئې څهٔ خطاوې موجودې وي او ځنې تاریخونه به ئې د تورات له متن سره اړخ نهٔ لګوي.. (خو) د افغانانو ځهرې د یهودیانو دي او خپله هم وائي چې د یهودیانو له نسله دي. افغانان له یهودیانو سره ډېر کلک تعصب لري او پرته له یوهٔ په ځائے دلیل نه ځانونه د یهودیانو اولاد نهٔ ګڼي.. څهٔ رنګه چې د اسرائیلو ځنې قبائل شرق ته راغلي، نو ولې مونږ دا ونهٔ منو چې افغانان د هغوي اولاد دے خو اسلام ئې منلے دے. (برنز الیګزنډر بخارا ته سفر ص ۱۶۲-۱۶٤)



برنز په کابل کښې له امیر دوست محمد خان سره هم په دې موضوع غږېدلے دے او امیر هم داسې ښودلي دي چې پښتانهٔ له اصله یهود دي. برنز په خپل یوهٔ بل اثر کښې چې په کال ۱۸٤۳ کښې د «کابل» تر عنوان لاندې خور شوے او افغانستان ته د دهٔ د یوهٔ بل سفر (۱۸۳۶-۱۸۳۸)

خاطرات دي ليکي چې کله چې دۀ له امير دوست محمد خان نه د پښتنو او يهوديانو د قومي ارتباط په باره کښې پوښتنه وکړه، امير داسې ورته ووئيل چې مونږ د خپل وررور کُنډه کوو او خپلې لُور ته ميراث نۀ ورکوو نو ولې به يهود نۀ يُو. (برنز، کابل ص ۱۰۹)

(يهوديان د خپل مذهبي اصل په بنا د خپل وررور کُنډه دې ته نۀ پرېږدي چې بل څوک وکړي او لُور د ميراث مستحقه نۀ ګڼي.)

وېليم مور کرافټ هم چې د نولسمې پېړۍ په اوائلو کښې (۱۸۱۹-۱۸۲۵) د هغه وخت په افغانستان او شاو خوا ملکونو ګرځېدلے دے، پښتانۀ يهوديانو ته ورته بولي. دې کله چې د خېبر د پښتنو په باره کښې غږېږي ليکي چې وئيل کېږي د خېبريانو شمېر ډېر زيات دے او عمدتاً په غرونو کښې اوسېږي. دوي په غرنيو خلقو کښې ډېرې دنګې ونې لري او څهرې ئې بېخي د يهوديانو دي. (مور کرافټ وېليم سفرونه ص۳۵۳)

کله چې مور کرافټ تر دې نه لږ وړاندې د جمرود د اپريدو په باره کښې غږېږي ليکي قاضي ئې چې بېخي يهودي غوندې ښکارېدۀ، له خپلو يو شمېر عزيزانو سره پېښور ته زمونږ ليدلو ته راغلے وۀ. (هم دغه اثر)

چارلز مېسن يو بل پخوانے انګرېز سياح دے چې پښتانۀ ئې په خپله سفرنامه کښې اسرائيل بللي دي. دې وائي د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې بايد هغو مختلفو عنعنو ته مراجعه وکړو چې يا دوي خپله ساتلي يا هغو مؤرخينو ثبت کړي چې د دوي په باره کښې ئې څۀ وئيلي دي. په دې پسې دې يو شمېر روايتونه په لنډ ډول يادوي او بيا ليکي:

((يو بل روايت پښتانۀ د هغو يهوديانو اولاد ګڼي چې د خلفاوو له يوۀ جنرال خالد سره ملګري شوي وو. ښائي دا خبره د خېبر د قبيلو په برخه کښې رښتيا وي. دوي په داسې يوۀ ځائے کښې اوسي چې د عربستان د يوۀ سنګر يا موضع (خېبر) نوم ئې ورباندې اېښے دے. د دغو پښتنو څښې په ځنو لحاظونو د يهوديانو څښو ته پاتې کېږي او کۀ ئې کوم يهود ووينې نو ارو مرو به ئې خپل عزيزان وبولي. (مېسن چارلز د مختلفو سفرونو خاطرات مقدمه ص۴۱و۴۲)

يو بل انګرېز چې پښتنې سيمې ته تللے او د خپلو مشاهداتو په نتيجه کښې ئې داسې ښودلي چې افغانان بېخي يهوديانو غوندې ښکاري. هغه يو صاحب منصب دے، دا صاحب منصب په هغه يوۀ ليک کښې چې د کال ۱۸۵۲ په شپه ئې ليکلے دے ليکي څنګه چې له اباسيند نه تېر شوم نو کتل مې چې د خلقو څهرې کټ کټ (د يهوديانو وې) نۀ يواځې دا چې د خلقو څهرې (د يهوديانو وې) بلکې ټول حالات سره دي ته وربولي چې دوي (د يهوديانو) د لسو قبيلو اولاد وګڼي. دوي ځانونه بني



اسرائیل بولي.. او افتخار پرې کوي. په داسې حال کښې چې د نورو مسلمانانو دپاره تر دې نه ستر سپکاوے نشته چې یهود وبلل شي. (روز جورج افغانان لس قبیلې او د شرق سلطانان ص ۷۹)

اما یو له هغو کسانو چې د پښتنو او یهودیانو د اصل او نسب په باره کښې ئې مستقل کتاب ولیکهٔ هغه جورج روز دے. دې په دې اثر کښې چې عنوان ئې ((افغانان لس قبیلې او د شرق سلطانان)) دے او په کال ۱۸۵۲ کښې خور شوے دے کوشش کوي په دلائلو او اسنادو دا وښیي چې د اسرائیلو لس قبیلې ورکې شوې او له خپلې اصلي مېنې نه په بله خوا تللې دي. په دې پسې ښیي چې دغه لس قبیلې په نهایت کښې افغانستان ته تللې او پښتانهٔ د هم دغو لسو قبیلو اولاد دے. (هم دغه اثر)

روز د پښتنو او یهودو په ارتباط وړومبے هغه مطالب د استشهاد دپاره را اخلي چې الیګزنډر برنز د پښتنو د یهودیت په باره کښې په خپله سفرنامه کښې ثبت کړي دي او ځنې ټکي ئې مونږ د مخه راواخستل. روز د برنز خبرې ډېرې معتبرې ګڼي او یو دلیل ئې دا هم بولي چې برنز له امیر



دوست محمد خان سره ډېر نزدې او دوستانه روابط لرل او په کابل کښې د امیر د یوهٔ ورور کره اوسېدهٔ او ځکه نو افغانانو، نهٔ یوائې د خپل اصل او نسب په باره کښې دقیق شفاهي معلومات ورکړي بلکې خپل کتابونه ئې هم ورورې دي. روز وروستو له دې چې د برنز له سفرنامې نه هغه عنعنوي روایت را اخلي چې پښتانهٔ یهود ګڼي لیکي په دې ډول مونږ ته معلومېږي چې افغانانو برنز ته وئیلي دي چې دوي تر هغه وخته یهود وو څو چې مسلمانان شول.(هم دغه اثر)

روز په دې پسې د برنز خبره تکراروي او وائي کهٔ پښتانهٔ په رښتیا هم له اصله یهود نهٔ وي نو هیڅ کله به ئې ځانونه بني اسرائیل نهٔ وې بللے. ځکه افغانان د نورو مسلمانانو په شان له یهودیانو نه ډېره کرکه کوي. (هم دا اثر)

روز بیا یو شمېر تاریخي واقعیتونه یادوي او لیکي: ((پښتانهٔ د یوهٔ خپلواک اولس په توګه په هغو سیمو کښې ژوند کوي چې ټول روایات ئې له قدیم ترینو وختونو نه د هم دوي ټاټوبي بولي. دوي د فارس سلطانان وو او په کلونو کلونو ئې په هند واکداري کړې ده.)) ځکه نو روز وائي په دې حساب یوائې پښتانهٔ د دې وړ دي چې هغه د شرق سلطانان وبلل شي چې د یهودیانو په ډېر زاړهٔ مذهبي کتاب کښې ئې یادونه شوې ده. (هم دغه اثر)

روز په نتیجه کښې وائي ((آئنده یوائې خدائے ته معلومه ده.. خو د راټولو شوو شواهدو په اساس، یقین ته نزدې ګمان دا دے چې افغانان د اسرائیلو ورکې شوې قبیلې او د شرق سلطانان دي. (هم دغه اثر)

(نور بیا)